HUMAN RIGHTS WATCH & MEDIA ORGANIZATION

**مطبوعاتي اعلامیه**

**افغانستان، کابل**

**نېټه: ۳/۸/۱۴۰۱**

**د ملګرو ملتونو نړیواله ورځ؛ د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره له ملګرو ملتونو غواړي چې عادلانه عمل وکړي.**

د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره د ملګرو ملتونو د نړیوالې ورځې په مناسبت له دغه سازمان څخه غواړي چې د افغانستان په ګډون له هېوادونو سره د بشري حقونو په اړه په عادلانه او واقعي ډول چلند وکړي. موږ په دې آند یو، چې ملګري ملتونه باید له خپل ځای ځایګي څخه په سم، خپلواک او مؤثره ډول کار واخلي، نه دا چې د نړیوالو ابر قدرتونو تر فشار او نفوذ لاندې وي دغه سازمان باید خپلې پرېکړې د ولسونو په وړاندې په صادقانه ډول پرمخ یوسي. نموړی سازمان، اته اویا کاله وړاندې د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو وروسته جوړ شو او افغانستان په ۱۹۴۶ زیږدیز کال کې د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال یې غړی شو.

په دغه سازمان کې د دولت او ملت د حقونو د دفاع غږ پورته کېږي او دا سازمان د یوه هېواد د داخلي او بهرني سیاست لپاره یوه لوړه اداره ده، نو موږ په دې سازمان کې د افغانانو رښتینې استازي غواړو. د تر څو د ټولو تبعیضو پرته د دغو مظلومو خلکو لپاره، په دې سازمان کې لابي وکړي. په افغانستان کې، موږ اوس د ډیپلوماسۍ په یوه حساسه مرحله کې یو د دغه ملت په سرنوشت خبرې اترې روانې دي او همدا شان له افغانستان سره د بشري مرستو اسانتیاوې شاملې دي، چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې باید د افغانستان ځوریدلي خلک یوازې پرېښودل شي پ او په دې سختو حالاتو کې خپلو بشري مرستو ته دوام ورکړي.

د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره غواړي چې اسلامي امارت سره د خبرو اترو او هڅونې له لارې داسې یو ګډ دریځ ته ورسېږي، چې د افغان ولس ټول حقونه پکې خوندي وي. یوناما چې په افغانستان کې د دغه سازمان استازې ده او له اسلامي امارت سره د نړیوالو فعالو بنسټونو تر منځ د همغږي ډېره برخه په غاړه لري، باید د افغانانو غوښتنې واوري او ټولې چارې یې همغږې کړي، تر څو دا مظلوم ملت له روان ناورین څخه خلاصون و مومي او د زده کړو په شمول د افغانانو ټول حقه حقونه ورته ورکړل شي.

افغانستان د ملګرو ملتونو له جوړېدو یو کال وروسته د دغه سازمان غړی شو. خو اوس اسلامي امارت په ملګرو ملتونو کې استازی نه لري. له اسلامي امارت څخه غوښتنه کوو چې د دې سازمان غوښتنې ته د اسلام په چوکاټ کې لبیک ووایي او د دې سازمان له لارې د افغانانو د حقونو ساتنه وکړي.

د اړیکو شمېرې: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴

برېښنالیک: media@whmo.org

**اعلامیه مطبوعاتی**

**افغانستان – کابل**

**تاریخ: ۶/۰۷/۱۴۰۱**

**روز جهانی سازمان ملل؛ مؤسسۀ دیده بان حقوق بشر و رسانه ها از ملل متحد میخواهد که منصفانه برخورد کند.**

مؤسسۀ دیده بان حقوق بشر و رسانه ها در روز جهانی سازمان ملل متحد، از این سازمان میخواهد که با کشورها از جمله افغانستان در مورد حقوق بشر، به گونه منصفانه و واقع بینانه برخورد کند. ما بدین نظر هستیم که، سازمان ملل باید از پرستیژ خود استفاده سالم و موثر بکند تحت فشار و تاثیر قدرت های بزرک جهانی نرود و تصامیم خویش را به گونه منصفانه در برابر ملت ها به پیش ببرد. این سازمان که پس از پایان جنگ جهانی دوم، هفتاد و هشت سال پیش از امروز بنیاد گذاشته شد و افغانستان در دورۀ پادشاهی محمد ظاهر شاه در سال ۱۹۴۶ میلادی عضویت این سازمان را به کسب کرد. چون دفاع از حقوق دولت و ملت در این سازمان مطرح میشوند و همچنان یک دستگاه بلند به منظور سیاست و پالیسی خارجی یک کشور است پس ما خواهان نماینده واقعی افغانها در این سازمان نیز هستیم که به دور از همه مشکلات ذات البینی به مردم رنج دیده این کشور در این سازمان لابی گری کند.

در افغانستان هم اکنون ما در فاز دیپلوماسی قرار داریم که شامل گفت‌وگوها مذاکره و تسهیل کمک‌های بشری به افغانستان است که در زمینه سازمان ملل باید مردم رنج دیدۀ افغانستان را تنها نگذارد و در این شرایط وخیم به کمکهای بشر دوستانۀ خویش ادامه دهد. دیده بان حقوق بشر و رسانه ها میخواهند که از طریق گفت‌وگو و اقناع سازی طرف‌های درگیر سرعت پیدا کند و این سازمان به امارت اسلامی به یک نقطه مشترک که در آن تمام حقوق ملت افغان حفظ باشند، برسند. یوناما که نمایندگی این سازمان در افغانستان است و بیشتر هماهنگی میان نهادهای فعال جهانی را با امارت اسلامی به عهده دارد، باید به خواستهای مردم افغانستان لبیک گفته و تمام موارد را طور هماهنگی کند که ملت رنجدیده ازین بشتر در این زمینه قربانی نشوند. این در حالیست که افغانستان یک سال پس از ایجاد سازمان ملل متحد، عضویت این سازمان را بدست آورد؛ اما اکنون امارت اسلامی در سازمان ملل متحد نماینده ندارد. ما از امارت اسلامی میخواهیم که در چوکات اسلام به خواست این سازمان لبیک گویند و از طریق این سازمان حقوق حقه افغانها را حفظ و نگهداری نمایند.

شماره های تماس: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴

ایمل: media@whmo.org